**مطبوعاتي اعلامیه**

**دیموکراسي د فساد منبع ده او د نواز غندل هسې بریالیتوب دی**

**د نبوت پر منهج خلافت تاسیس کړئ، چې د فساد جرړه وباسي**




**(ژباړه)**

د ۲۰۱۸م د جولای پر ٦مه چې د پاکستان د پخواني لومړي وزیر نوازشریف د فساد د قضیې حکم اعلان شو، یوه پوچه بریا ده او بس. وخت تېرېږي او د فاسدو حکامو ځایونه یوازې د ټاکنو، کودتا او یا هم د مجلسینو په ډکولو سره بدلېږي، خو بیا هم فساد پاکستان له پراخ گوانښ سره مخ کړی دی. څېرې بدلېږي، خو فساد پر خپل ځای پاتې دی؛ ځکه چې تر اوسه دموکراسي پر خپل ځای پاتې ده. په رښتیا هم چې دموکراسي د فساد سرچینه ده، ځکه چې د قانون جوړونې اساس، د ښو او بدو، حلال او حرامو ټاکل یې همدغو ته په واک کې ورکړي. له همدې امله قضیه تر اوسه څېړل کېږي، چې د پاکستان مفسد سیاسیون د نوي طرحې په خاطر غونډې جوړې کړي، ترڅو ځان قدرت ته ورسوي او له ځنډ پرته د چور او چپاول یوه بله څپه پیل کړي.

دیموکراسۍ له پخوا زمانې نه په پاکستان کې فساد ته لار هواره کړې ده او که پر خپل حالت پاتې شي، اوسنی حالت به نور هم ادامه پیدا کړي. د پانامې د یادښتونو د خبرونو پر اساس، دیموکراسۍ فساد

یوازې په پاکستان کې نه؛ بلکې په ټوله نړۍ کې له روسیې څخه تر جنوبي امریکا پورې خپور کړی دی. په څو لسېزو کې دیموکراسۍ فاسدو حکامو ته دا فرصت ورکړی، چې هغه ناروا ګټې چې له سواحلي شرکتونو څخه یې په لاس راوړي له پلټنې، تحقیق، او محکمې پرته پټې کړي. د دیموکراسۍ له کبله نن ورځ د بډایه هېوادونو سرچینې چور شوي، د بېوزلو شمیر ډېر شوی، شتمن کم شوي او فاسد حکام له کوم خنډ پرته خپل حاکمیت ته دوام ورکوي. په دموکراسۍ کې د فساد له منځه وړل دومره پوچ او بې معنا دي، لکه له روغتیا چې د مرض غوښتنه وکړې.

له هغه څه پرته چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي دي، بل هېڅ شی نه شي کولی فساد په قطعي ډول له منځه یوسي. دغه قانون (هغه چې الله تعالی را نازل کړی) به داسې حکام پیدا کړي، چې زموږ له لوری به د ستایلو وړ وي. داسې راشد خلیفه لکه حضرت ابوبکر رضی الله عنه، چې د خپل فقر د کمولو لپاره یې تجارت پیل کړ، خو د تفویض معاونین یې ځنډ شول. داسې راشد خلیفه لکه حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه چې د رخت د یوې وړې ټوټې له کبله په عاجزۍ سره ماخذې ته تیار شو. داسې راشد خلیفه لکه حضرت عثمان غني رضی الله عنه، چې له حاکم کېدو مخکې یې تجارتي کاروان له ښار څخه د تېرېدو په وخت کې ځمکه لړزوله، خو له حاکم کېدو وروسته یې عادي ژوند غوره کړ. داسې حکام لکه راشد خلیفه حضرت علي رضی الله عنه، چې له ځند پرته یې د غلا شوي ډال له کبله د یهودي پر وړاندې د شاهدانو د نشت له امله قضیه تصدیق کړه.

پرېږدئ چې موږ یو ځل بیا د دیموکراسۍ په واسطه ونه چیچل شو. پرېږدئ چې د حزب‌التحریر له شبابو سره یوځای، د نبوت پر منهج د اسلامي دولت د تاسیس په واسطه د ظلم او فساد په له منځه وړلو کې هڅه وکړو. پرېږدئ چې همدا اوس له غرب څخه تر امریکا او له شرق نه تر چینه له دموکراسۍ څخه د ستړې شوې نړۍ لپاره هڅې وکړو، چې یوازې فاسد مخکښ حکام یې تغذیه او تقویه کوي. پرېږدئ چې همدا اوس موږ د اسلامي نړۍ د ویښتابه لپاره له غرب څخه تر مراکشه او له شرق نه تر اندونیزیا پورې د خپل اساسي هدف(اسلام) لپاره هڅې وکړو. پرېږدئ چې موږ د ځمکې پر مخ د فساد او دیموکراسۍ د ظلم د له منځه وړلو په موخه مبارزه وکړو او په ډېره مینه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زېري په لټه کې واوسو. هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ»**

(رواه احمد)

*ژباړه: ... وروسته به جبريه حاکميت راشي او تر هغه وخته به وي، چې الله تعالی غوښتي وي او هر وخت چې الله تعالی وغواړي هغه به لرې کړي، بيا به د نبوت پر منهج خلافت راشي، وروسته غلی شو.*

**د حزب‌التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدرو ګڼه: PR۱۸۰۴۵**

**۱۴۳۹هـ.ق، د شوال ۲۲مه**

**۲۰۱۸م، د جولای ٦مه**